

نور محمد غفوری

# د افغانستان حالاتو ته ځغلنده کتنه

افغانستان همدا اوس په سختو جګړو کې اخته او یو ډیر بې امنه هیواد دی چې په ډیر پیچلي سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري وضعیت کې قرار لري. د افغاني ټولنې هر اړخ او ټول سکټورونه له ستونځو او بحران سره مخامخ دي. روان کړکیچ هم د افغانستان ټول خلک، ګاونډي هیوادونه، سیمه، نړیواله ټولنه او د اوسني دولت بین المللی پارټنران په تشویش کې اچولي او بحران هومره ژور او هر اړخیز دی چې په کوچنۍ لیکنه کښې یې په ټولو ابعادو رڼا نه شي اچول کیدای.
د افغانستان د بحران په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري اړخ باندې یو ځای خبرې کول او په یوه مقاله کې په کامپلکسې ډول یو له بله سره په تړلي توګه د موضوع څیړنه لوستونکو او په تیره بیا هغو ځوانانو ته چې په ۲۰۰۱ کال کې زیږیدلي، یا یې تر پنځلسو کالونو ټیټ عمر لاره او په دې موده کې یې په دې اړه ځانګړې پلټنې هم نه دي کړې؛ د پیښو جزیات او د هغو د ودې او تکامل د بهیر واضح تصویر په لاس نه شي ورکولای. له وطنپالو ځوانانو او د سیاست له مینه والو سره د خبرو اترو په جریان کې مې ددې اړتیا ولیده چې په دې هکله د ټولو لوستونکو له پاره د پوهې وړ لنده، خو د ټولو له پاره د فهم وړ تاریخي- تحلیلي لیکنه وړاندې شي. زما له نظره بنه داده چې د افغاني ټولنې په هره غوره برخه، لکه سیاسی سکټور، اقتصادي سکټور، اجتماعي او ټولنیز سکټور، جدا جدا تاریخي تحلیل وړاندې شي، تر څو چې لوستونکې په هره برخه کې د حالاتو تاریخي مبدأ و پیژني او د پدیدو او پروسو اساسي تکاملي کرښه تعقیب کړای شي.

**سیاسي نظام او د افغانستان د اوسني سیاسی نظام تاریخي شالید:**

1. **سیاسي نظام او د هغه اجزاوې:** په لنډه توګه ویلای شو چې سیاسی نظام په معین هیواد کې د انسانانو تر منځ هغه اړیکې په غیر کې نیسي چې د دولتي چارو په ډول او سمون پورې اړه ولري. دلته ادا موضوع طرحه کیږي چې د سیاسي ځواک په سر کې څوک، کومه ډله او کوم ګوند ځای ونیسي او د کومو موخو له پاره کار وکړي، د هیواد چارې څنګه مدیریت کړي او دولت په اقتصادی، ټولنیزو او کلتوري چارو کې څنګه موقف او اغیز ولري. د همداسې یو له بله سره متفاوتو نظرونو پر بنسټ مختلف سیاسي ګوندونه رامنځته کیږي.
عصري سیاسی نظام د هیواد د عامو چارو د سمون له پاره اساسي قانون لري او د هغو په چوکاټ کې بیا په هیواد کې د ټولنیزو اړیکو د هرې فرعي څانګې د سمون له پاره نور قوانین جوړیږي.
د عصري سیاسي نظام غوره جوړوونکې برخې دولت او سیاسي ګوندونه دي چې دولت پخپله درې غوره برخې، مقننه قوه (پارلمان) اجرائیه قوه (حکومت) او قضائیه قوه (ستره محکمه) لري. سیاسي ګوندونه په عصری سیاسی نظام کې د خلکو د سیاسي ارادې په جوړولو، د ټولنیز شعور په لوړولو او د ولس د توده او دولت تر منځ د پلونو او اړیکو د جوړولو رول لوبوي. مطبوعات هم د ملت د ارادې په تشکل او جوړونه کې غوره رول لوبوي.

2 . **د افغانستان د اوسني سیاسي نظام تاریخي شالید:** د افغانستان د اوسني سیاسي نظام د بنسټ ډبره په ۲۰۰۱ کال کې په جرمني کې د بُن د کنفرانس لخوا کېښودل شوه.

کله چې په ۲۰۰۱ م کال کې د نیویارک جوړه تجارتي برجونه د سپتمر د میاشتې په یوولسمه نېټه په یوه هوایي تروریستي برید کې ونړیدل او د پنتاګون ماڼۍ زیان ولید، داسې و انګیرل شوه چې دا تروریستي بریدونه د القاعدې د تروریستي شبکې د مشر اسامه بن لادن لخوا تنظیم شوي. ولسمشر بوش په امریکا کې جګړه ایز وضعیت اعلان کړ، ویې ویل چې د ناتو ټول هیوادونه د تړون د قرارداد له مخې مکلف دي چې په دې جنګ کې ورسره ملګرتیا وکړي. د تجارتي برجونو نړول یې پر امریکا یوځې حمله او د ناتو غړي هیوادونه یې د امریکا په ننګه مکلف وبلل.

اسامه بن لادن چې د شلمې پیړۍ په اتمه لسیزه کې د مجاهدینو د مرستې له پاره افغانستان ته راغلی و، په دې وخت کې په افغانستان کې اوسیده. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د پیښې په درشل کې د افغانستان د ځمکې په سلو کې تر نوي (۹۰) زیاته برخه د طالبانو په اختیار کې او پاته د برهان الدین رباني تر مشرۍ لاندې حکومت تر ولکې لاندې وه. د القاعدې مشر اسامه بن لادن د طالبانو تر اغیزې لاندې ساحه کې په افغانستان کې اوسیده. طالبانو سره ددې چې د افغانستان په ډیره جغرافیایي ساحه او د افغانستان د نفوسو پر اکثریت حاکمیت کاوه، خو دولت یې یوازې د پاکستان، سعودي عربستان او قطر لخوا په رسمیت پیژندل شوی و. نورو هیوادونو د دوی دولت په رسمیت نه پیژاند. په ملګرو ملتونو کې د افغانستان چوکۍ هم د برهان الدین رباني د حکومت له استازي سره وه.

لنډه دا چې امریکا ددې پیښې د غچ اخیستلو په خاطر په افغانستان کې د بن لادن د شتون او ښکار کولو له کبله د انګلیس په ملګرتیا په افغانستان نظامي یرغل وکړ، د طالبانو رژیم یې ړنګ کړ. د هغوی تر یرغل وروسته د څو ورځو په اوږدو کې ملګرو ملتونو د افغانستان د موضوع په اړه پریکړه وکړه او په افغانستان کې یې د دولت او نظام د جوړولو دنده پخپله غاړه واخیسته.

له دې پریکړې سره بې له ځنډه د نړیوالې ټولنې لخوا موضوع داسې واوښته چې په افغانستان کې دولت نشته او یا افغانستان د مشروع قوي مرکزي دولت او منظم سیاسي انتظام له کمبود سره مخامخ دی. څرنګه چې د ملګرو ملتونو له دندو څخه یوه دا هم ده چې له هغو هیوادونو سره د سیاسي نظام او مدرن دولت په راجوړولو او غښتلتیا کې مرسته کوي، کوم چې دولتي سیستم یې له کاره لویدلی او یا ضعیف او ناکاره دولتونه ولري او د داسې ناکاره ، ناکام او ضعیف دولت شتون د همغه هیواد د خلکو د ځان او شتمنیو مصئونیت نه شي نیولای، خلک یې پخپل منځ کې په جګړو اخته وي، د کار موندنې، د ژوند د معیشت د تأمین او د ټولنیز پرمختګ شرایط نه شي ورته برابرولای. په معین هیواد کې د کارنده دولت نه شتون او یا د داسې ضعیف دولت موجودیت چې پخپله ټولنه کې حکم ونه شي چلولای، د بې نظمیو او انارشۍ مخه ونه شي نیولای؛ کیدای شي چې د سیمې او نړۍ له پاره د خطر او نا آرامۍ منبع شي. نو ځکه باید د ملګرو ملتونو نړیواله موسسه ورسره د مشروع، قانونمند او توانمند دولت په جوړولو او غښتلي کولو کې مرسته وکړي. په دې وخت کې زموږ د هیواد له پاره هم موضوع داسې مطرح شوه چې افغانان پخپله خپلې ستونځې نه شي حل کولای، له جګړو لاس نه اخلي او یو مشروع قوي دولت نه شي جوړولای، نو ځکه لازمه ده چې د ملګرو ملتو تر حمایت لاندې او د نړیوالو په مرستو ورته مدرن او غښتلې ټولنیز، اقتصادي او سیاسي نظام جوړ شي.

د همدې حقوقي، تیوریکي او نظري طرحو تر سیوري لاندې امریکا او ناتو خپل یوځې شتون په افغانستان کې توجهٔ کړ او توجهٔ کوي یې. له ۲۰۰۱ م کال را پدې خوا د امریکا او ناتو د نظامیانو موجودیت او د یوناما په «چوکاټ» کې د دولت په جوړولو او د افرادو په مقررولو او لرې کولو کې د امریکا امر او نهیې د هیواد د اشغال علامه نه بولي، بلکې د ملګرو ملتونو د واکونو په چوکاټ کې د نړیوالو مسئولیتونو، دندو، او پریکړو د تطبیق وسیله ګڼي. کله چې د بن کنفرانس د ملګرو ملتونو د پریکړې پربنسټ او د هغو تر مدیریت لاندې جوړ شو، د افغانستان له پاره یې د یو لړ کارونو د انجام له پاره وعدې او پریکړې وکړې چې په راتلونکې لیکنه کې به وربانديې بحث وکړو.

نور محمد غفوري
20.06.2020

www.hoqooq.eu